# پښتو شاعرۍ کښې د هندي سبک نخښې

## Tracing Signs Of Sabk-E-Hindi In Pashto Poetry

ډاکټر نور محمد دانش بېټنی*

**Abstract:**

Sabk-E-Hindi had been introduced to pashto literature in classical period commonly known as golden period of Pashto literature. Hameed Baba is considered the poineer of Sabk-E-Hindi in pashto poetry who introduced weird metaphors into pashto poetry. His style had been followed by the poets such Kamgar Khan Khattak, Ali Khan, Kazim Khan Shed and Baidil etc. Author of this paper strived to trace the signs, characters, style of SABK-E-HINDI, in pashto poetry especially in pashto classical poetry.

د پښتو ادبي تاریخ که مونږ ژوره مطالعه وکړو نو په دې کښې د ادبي پېش رفت او ارتقاء په حواله دوه دورونه داسې دي چې په ټول ادبي تاریخ کښې يې مثال نۀ پیدا کیږي، په دغو دوو درونو کښې یو زرین دور دی چې د پښتو کلاسکي دور په حېث يې هم یادولی شو. دویم د شلمې پېړۍ یعني جدید دور دی چې پښتو ادب ته د نظم او نثر په حواله نوي اصناف او نوي رجحانات را داخل شول او دغه سلسله تر دې دمه هم دوام لري. خو مونږ په دغه مقاله کښې په اول دور یعني (زرین دور) بحث کوو، په زرین دور کښې هسې خو د خټکو کورنۍ ادبي خدمات او د رحمان بابا ادبي مکتب شاعرانو خدمات په وړومبي سر کښې راځي خو د دغو دوو ادبي مکتونو سره سره یو بل ادبي مکتب یا سبك هم وجود لري چې د سبك هندي په نوم يې شهرت تر لاسه کړی دی، زمونږ بحث په دې مقاله کښې یوازې د سبك هندي تر څنو نازکخیاله شاعرانو پورې محدود دی چې دلته يې لنډه شان تجزیه پېش کوو.

هندي سبک دَ فارسي ادب ډېر مشهور او معروف سبک دی- په دې کښې نادره تشبیهات، استعارې مجاز په داسې فني او ادبي پېرایه کښې وپېرل شي- چې په هغې نازک خیالونه، افکار او دَ تخیل رنګ په ډېره عجیبه او ښکلي رنګ کښې ښکاره شي- په دې حقله پروفېسر ډاکټر پروېز مهجور خوېشکی وائي:

تازه ګوئي او معنی افریني، نازک خیالي او باریک بیني، جدت پسندي او دقت پسندي، نوي نوي تشبیهات استعارې علامتونه او ترکیبونه دَ الفاظو شان او شوکت او دَ

* Assistant Professor, Pashto Academy, University of Peshawar

خیال رفعت دَ تخیل طلسمیت او دَ وجداني کیفیاتو استعجابیت، تجسمي او مثالیه اسلوب، دَ دې سبک امتیازي شاعرانه فني خصوصیات دي"(1)

پښتو ادب کښې په باقاعده توګه دَ هندي سبک ابتدادَ موشګاف عبدالحمید نه کیږي. اګر که هندي سبک زمونږ خپل ادبي مکتب نۀ دی خو حمید بابا په کښې ډېر په نزاکت سره داسې رنګینۍ او ښکلاګانې ورکړې چې هډو پرې دا ګمان کېږي هم نه چې ګنې دا د فارسۍ نه پښتو ته راغلی دی. بلکې دا ئې په سپېځلې پښتو په وجه پښتون کړی دی. یعني د پښتون کړۀ وړۀ ئې په کښې په داسې طریقه ورواچول چې داسې ښکاري لکه د پښتو خپل صنف. یعني په نوي جام کښې زاړۀ شراب یا فارسي کالبوت ته ئې د پښتو روح ورواچول، په دې خبره شاید چې د اکثرو نقادانو تر مېنځه اختلاف وي چې د پښتو تر ټوله نازك خیاله او باریك بین شاعر څوك دی ولې په دې خبره باندې د پښتو ټول عالمان متفق دي چې پښتو کښې د سبك هندي او نازك خیالۍ بنیاد حمید بابا ایښی دی. په دې حقله خواجه محمد سائل لیکي:

"دی وړومبی شاعردی چې په پښتو ادب کښې ئې دَ باریک بینۍ ور پرانستو او په دې مېدان کښې دَ زغل دَ ګټې څهره ئې په سر وتړله "(2)

د حمید بابا نه مخکښې پښتو ادبي تاریخ کښې په باقاعده توګه د نازك خیالۍ او باریك بینۍ نخښې چرته هم په نظر نۀ راځي، حمید بابا په وړومبي ځل دا خلا ډکه کړه، او په داسې ښکلي انداز یې د دې سبك پېروي وکړه چې په هېڅ توګه ترې انکار ممکن نۀ دی، حمید بابا ته په خپله هم د دې ادراك شوی ؤ ځکه خو وایي چې:

پارسي بانو د حېرت ګوتې په غاښ کړې
چې حمید سخن سازي کړه په پښتو کښې"(3)

حمید بابا په اوولسمه صدۍ کښې د سبک هندي په صنف د پښتو قلم په څوکه داسې په بېلابېل رنګ کښې په شعر و ادب کښې په ګڼو شتبیهاتو استعاراتو لاس پورې کړو چې نړۍ ورته ګوته په غاښ حېران دریان دي. حمید بابا د هندي سبك یو بنیادي توکی نازك خیالي هم په ډېره فني پېرایه کښې د خپلې شاعرۍ موضوع ګرځولې ده حقه خبره هم دا ده چې دغه موضوع سره هغۀ انصاف هم کړی دی، د حمید بابا په کلام کښې هسې خو د نازکخیالۍ پرېمانه نمونې موجودې دي خو دلته مونږ د هغۀ د غزل یو څو شعرونه پېش کوو چې د نازکخیالۍ اعلی نمونې دي:

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کښې
دا ئې غاښ په خولۀ کښې زېب که ژاله شوه په لاله کښې

دا زمــا لـــه غمــه شـــین زړۀ، پـــه کښـــې خیـــال د یـــار د شــــونډو
هســـې رنـــګ زیـــب و زینـــت کـــه، لکـــه مـــی پـــه شـــنه پیالـــه کښـــې
کـــــه یـــــار غـــــواړې هـــــومره ژاړه، څـــــو درځـــــي عبدالحمیـــــده
دا پـــه دا چـــې دُر مونـــده شـــي پـــه دریـــاب نـــۀ پـــه نالـــه کښـــې"(4)

د حمید بابا شاعري د ښکلو اشعارو او نازکو تشبیهاتو هنداره ده. او په دې کښې د موضوع په لحاظ په کښې ښکلي ښکلي عکسونه او انځوران لیدل شي. د هغۀ شاعري لکه د هنداري د معاشرې او کلوېغی ناسور په ګوته کوي. او په ښکلو ښکلو تشبیهاتو ئې سنجوي.

منکـــــران چـــــې ســـــترګې پټـــــې کـــــړې د شـــــرم
د مریمـــــې پـــــه بـــــاب وائـــــي کـــــم و زیـــــات
پـــــاک د نفـــــس لـــــه مقتفٰـــــی پـــــه محبـــــت کښـــــې
یـــــم ولاړ لکـــــه عاصـــــي پـــــه عرصـــــات"(5)
لکـــــه ســـــر د پســـــۀ پـــــه اور غابښـــــونه ســـــپین کـــــا
هســـــې مـــــا لـــــره لـــــه غمـــــه خنـــــدا راغلـــــه"(6)

د سبك هندي ټولو شاعرانو مجازي عشق د خپلې شاعرۍ دپاره یو لاژمي جُز ګڼلی دی، حمید بابا هم د دغه روایت پالنه کړې ده، د حمید بابا په شاعرۍ کښې د عشق رنګ وبو زیات لیدل شي او بیا په خصوصي توګه مجازي عشق. له دې وجې د هغۀ شاعرۍ نه د مجاز څرګندونه کیږي.

کـــــه صـــــورت د عاشـــــق خـــــوار لیـــــدۀ شـــــي څـــــۀ شـــــو
بادشـــــاهي وي پـــــه خرقـــــه کښـــــې د ګـــــدا
زلېخـــــې د بادشـــــاهۍ منصـــــب پرېښـــــود
چـــــې حاصـــــله ئـــــې پـــــه عشـــــق شـــــوه ابتـــــدا
دا چـــــې ژاړي عاشـــــقان ظـــــاهر لـــــه غمـــــه
د ښـــــادۍ ســـــتر پوشـــــي کانـــــدي پـــــه دا"(7)

حمیدبابا ته یو بل اولیت هم حاصل دی او هغه اولیت په پښتو شاعرۍ کښې د امرد پرستي باب پرانستل دي او په هغې کښې د برات نومې هلک ډېر په بې باکه انداز کښې د هغۀ هجران سوز و ګداز کوم ته چې په انګرېزي کښې Still sad music of the Humanity وئیلی شي یاد کړی دی چې ددې نه مخکښې هیچا هم دې صنف طرف ته توجه نۀ وه

راګرځولې. البته حمید بابا نه پس ددغه سبك شاعرانو په کلام کښې د امرد پرستۍ واضحې نخښې په نظر راځي، پروفېسر ډاکټر اقبال نسیم خټك د امرد پرستۍ موضوع په پښتو شاعرۍ کښې را ګډول يو لعنت ګڼي او په دې لړ کښې ليکي:

"د امرد پرستۍ په لړ کښې دا خبره هم هېرول نۀ دي په کار چې شاعرانو به دغه هلکان په ساقي، پی مخی، زرګربچه، ترسا بچه، ترك بچه او په پير مغان يادول اګر کښې دا يو داسې روايت دی چې د پښتنو د مزاج سره سمون نۀ خوري البته نابغه روزګار خوشحال خان خټك په خپل کلام کښې دغه روايت ته وده ور نۀ کړه او صنف نازك يې د معشوقې په طور په شاعرۍ کښې مخاطب کړو خو شايد چې وروستو د دغه روايت پاسداري و نۀ کړه او خامخا يې په پښتو شاعرۍ کښې يو نوی لعنت راګډ کړو"(8).

د پروفېسر ډاکټر اقبال نسيم خټك خبره په خپل ځای درسته ده خو دلته دا کتل هم په کار دي چې کوم شاعر په شعوري توګه د يو سبك پېروي کوي نو هغه د خپلې شاعرۍ دپاره د هغۀ سبك ټول لوازمات او عناصر هم په شعوري توګه را داخلوي. حميد بابا هم لکه چې وړاندې وئيلي شوي دي د سبك هندي شاعر دی د هغۀ د دغه سبك ټول ځانګړي خصوصيات په نظر کښې وو، د دغه سبك د فارسي شاعرانو يې غرقه مطالعه کړې وه، پښتو شاعرۍ کښې چونکې دا يوه نوې تجربه وه نو دا تجربه په وړومبي ځل حميد باب وکړه، حميد بابا چونکې د دغه سبك ټول فني او فکري خصوصيات په نظر کښې نيولي وو نو ځکه په دومره سخته پيمانه پرې تنقيد کول جواز نۀ لري.

يا نر حور دی په ښائست يا ښاپېرک دی
نۀ غلط شوم په دا دواړو کښې تېری دی

کۀ مې څوک بختور بولي نن ئې درنګ دی
چې دا هسې مې نر حور نيولی ښنګ دی

دا همه واړه د مينې محتاجي ده
چې هلك ته سپينه ږيره بابا وايم(9)

دا چې ستائي نر حوران د جنت خلق
له هغو نه يو زما په يقين نۀ ئې(10)

نن ګواهي د جنت درسته په حميد شوه
چې ئې ناست په ښنګ کښې تا رنګه نرحور دی(11)

دا افسوس کړي خط و خال د نوخطانو
چې اشنا شو د حميد په هند برات(12)

لنډه دا چې حميد بابا دې فن ته يوه نوې ښکلا، ځلا او دوام ورکړو. او خپل ځان ئې ددې صنف ځانګړې شخصيت اوګرځولو. د حميد بابا نه پس د دغه سبك نمائنده شاعرانو کښې کاظم خان شيدا، کامګار ختك، علي خان، بېدل وغېره شامل دي، چې په دغه مقاله کښې پرې مونږ بحث کوو.

حميدبابا سره اوږه په اوږه يو بل شخصيت کامګار ختك را روان دی، کامګار ختک هم لکه د حميد بابا په شان خپله ښکلې او سپېځلې ژبه د فارسي وانو شاعرانو په ډول نادره او نايابه تشبيه. ګانو او استعاراتو مرکز او محور اوګرځوله. او په دې کښې ئې د فن سره نوی جدت او ندرت پېدا کړو او د پښتو پنګه ئې د ادب زار په مېدان کښې ښېرازه کړه. کامګار ختک پښتو ژبې له لکه د خوشه چين د فارسي نه ښکلي او رنګين تشبيهات راوړل او د پښتو ناوې ئې لکه د مشاطې سينګار کړه. خو د دغه خوشه چينۍ سره سره يې خپل ځانګړې رنګ او اسلوب هم برقرار وساتلو.

کامګار ختک يو کلاسيک شاعر دی او لکه د حميد بابا ئې په دې رنګ رنګ رنګ رنګ ښاګانو باندې پښتو ژبه منوره کړه. د هغهٔ اسلوب هم لکه د حميد بابا په شان دی او دواړو په يو صنف کښې ښهٔ طبع ازمائي وکړه.

کامګار خيرې پېراهن کړ لکه صبح په تن باندې
د وحدت افتاب طلوع کا اوس هنګام د صبحدم شه(13)

هغه هم د ژوند د تريخو کشالو ښکار شوی دی او لکه د ناکام عاشق ,, عاشقِ نامراد ، ، ئې خپل احساسات، جذبات او عواطف د قلم په څوکه کاغذ ته داسې سپارلي دي. او په دې کښې د معنٰی افريني خپل کمال ته رسولې ده.

د وصال امېد له ښکليو ناپوهي ده
الفت کله له سړيو پريزاد کا(14)

په ډېر شوق د ستا د زلفو و زنځير ته
کله غاړه اوږدومه کله ملا(15)

که بوسه په يار د سر مومې کامګاره!
ملغره ګرانه نهٔ ده په کودري(16)

ستا د حسن بادشاه ملک د کابل واخست
اوس په هند کښې اخلي کشمير ورو ورو(17)

له دې نه علاوه کامګار خټک صاحب پښتو ادب د هندي سبک په ډېرو نکته افرينو هم سنجولی او رنګين کړی دی.

د ښو غشي په زړۀ کښې زما بند کړه
د مراد نخل په ښۀ مکان پېوند شۀ

په جبين باندې دې نقش د چين وشي
مشک د چين چې ستا د زلفو سره سم کړم
د غم، غم دې هغه کاندې چې خوشحال وي
زۀ مدام غمجن به ولې دَغم، غم کړم(18)

ستا د جمال عکس چې ئې وليد په پياله کښې
کاندې صراحي ورته زمان سجود په هر زمان

دروغژن به شم که وايم زما جان ئې
چې تر جانه په سل ځله په ما ګران ئې(19)

لنډه دا چې د کامګار خټک صيب شاعري د نازک خيالۍ هنداره ده چې د هنري سبک يو ښکلی مخ دی. چې هغه ئې په رنګ رنګ خالونو مزين کړی دی. ددې نه پس چې د کوم شخصيت نوم په هندي سبک کښې له ټولو نه ممتاز او ځانګړي شخصيت ثبتن دی. هغه دی کاظم خان شېدا کوم چې هندي سبک ترجماني کړې ده او په خپله شعري پنګه کښې ئې رنګ رنګ جادو بياني کړې ده. چې اکثر خلق پرې نۀ پوهېږي. ځکه چې دا ډېره پوهه غواړي. دويمه دا چې په دې د پښتو په برعکس فارسي او هندي زياته استعمال شوې ده. بله دا چې هغه د هندوستان په ماحول کښې په هندي حُسن و جمال کښې نوې نوې ښکلاګانې وليدې. او زياتره کلام ئې د هجر و غم په غم کښې ووئيلو. ځکه چې دی په ورو کتوب کښې له ځنې ناسازګاره حالاتو له کبله هندوستان کښې تېر کړی ؤ او هم هغه ځائی ئې تر مرګه مسکن وګرځولو.

چې خاطر مې شي مسکن ددې سبزانو
راته وګوره يو نوی هندوستان يم(20)

تورې سترګې دې شوې ترې په خندا کښې
که هندوې د هند لامبي په ګنګا کښې(21)

کاظم خان شیدا چې د کوم عالي مقام ښښتن دی هغه دوي ته ملاؤ نۀ شو. اګرچې هغۀ ته په ژوند کښې دې خبرې احساس شوی وو. ځکه خپل مقام او مرتبه په شاعرانه تعلي کښې څۀ دا رنګ وړاندې کوي.

پـــه دا وخـــت کښـــې کـــۀ شـــېدا دواړه مومنـــد وی
ثنـــاخوان بـــه وو هـــر دم ســـتا دَ وئیلـــو(22)

شـــېدا خـــم کـــړم د خـــاطر لبرېـــز پـــه و ینـــو
زۀ چـــې بنـــد لکـــه غنچـــه رنګـــین مضـــمون کـــړم(23)

غواصـــي غـــواړي شـــېدا د اشـــعار بحـــر
ملغلـــرې ئـــې لیـــدی شـــي بـــې نظیـــرې

هغه د خپل شعر و شاعرۍ بنسټ او د هغې آرائش او زېبائش متعلق څۀ دا رنګ ګویا دی.

مضـــــمون د شـــــعر لکـــــه پېکـــــر وي
رنګـــین الفـــاظ ئـــې رخـــت و زېـــور وي
ورتـــــه ضـــــرور دي دا دواړه څیـــــزه
پېکـــر کـــۀ هـــر څـــو دلربـــا تـــر وي(24)

د هندي سبک د شاعرانو په شان خپله شاعرانه تعلي څۀ دا رنګ کوي.

د شـــانې پـــه دود پېـــدا کـــړه رســـا فکـــر
بـــاریکي لـــرې زمـــا د اشـــعار زلفـــې(25)

رنګینـــي ئـــې د اشـــعار تـــر حنـــا زېـــب کـــه
د شـــېدا دیـــوان پـــه لاس واخلـــئ خوبـــانو(26)

شـــېدا واســـتوه رنګـــین اشـــعار لـــه هنـــده
ســـتا لـــه رائـــې ســـره اشـــنا د ســـرائی یـــاران دي(27)

هم دا رنګ د هغۀ په شاعرۍ کښې مشکل پسندي ده.

زنـــګ کـــه هـــر کلـــه شـــېدا د تېـــغ جـــوهر خـــوري
د مګـــس پـــه بـــال بـــه څـــۀ رنـــګ اســـتفراغ کـــا(28)

د هـــــر چـــا چـــې منـــــور د بخـــــت کوکـــــب وي
انجـــــذاب د کهکشـــــان پـــــه کهربـــــا کـــــه(29)

کاظم خان شیدا د پښتو تر ټولو باریك بین او مشکل پسند شاعر دی، د هغهٔ چې څومره تخیل لوړ دی نو په هغې د پوهېدو هم د یو رسا ذهن ضرورت دی، د کاظم خان شیدا دیوان تر دې دمه پورې چا په صحیح معنو کښې توضیح او تشریح نهٔ ده کړې کوم چې د دهٔ حق دی، د کاظم خان شیدا په فکر او فن چې کوم علمي کار شوی دی، هغه زیاتره د شلمې پېړۍ سره تعلق لري، خصوصاً د ډاکټر انوار الحق، همېش خلیل، حبیب الله رفیع، ډاکټر اقبال نسیم خټك، ډاکټر نسیم اڅکزي او ډاکټر حنیف خلیل کار یقیناً د ستائینې وړ دی خو بیا هم مونږ دا وئیلی شو چې د کاظم خان شیدا په حقله د مزید تحقیق او څېړنې ډېر زیات ګنجائشونه موجود دي.

د کاظم خان نه پس علي خان د پښتو ژبې هغه شاعر دی کوم ته چې شاعر رومانس وئیلی شي. او حمید بابا په پل ئې خپل پل اېښودی دی او خپل مقام ئې پخپله ځان له په ګوته کړی دی. او هندي سبک فن ئې کمال حد تک رسولی دی. عن تر دې چې اوس هېڅوک هم د هغوی تتبع نهٔ شي کولی.

اننګـــــي ئـــــې پـــــه بوســـــه ســـــره زخمـــــي شـــــو
د اومـــــــو پیـــــــو پېـــــــروی دی کـــــــه نـــــــه

ځکـــــه نـــــهٔ کـــــوم زبیرګـــــي د عشـــــق لـــــه ســـــوزه
چـــــې رقیـــــب مـــــې پـــــه وائـــــې وائـــــې بانـــــدې واه واه کـــــا

چـــــې ســـــرې شـــــونډې ســـــبز خـــــال دې راپـــــه زړهٔ کـــــړم
ســـــر تـــــر پایـــــه ســـــره لمبـــــه شـــــم شـــــنه ډډوزه(30)

خـــــوبرویي څـــــهٔ پـــــه نســـــب پـــــه جامـــــه نـــــهٔ ده
ګونـــــــدې واغوســـــــتې بـــــــدرنګو سندســـــــي
د هـــــر مـــــخ پـــــه خپلـــــه زینـــــت قـــــدر و قیمـــــت وي
څـــــوک د نیـــــا پـــــه قیمـــــت نـــــهٔ ســـــتائي نمســـــي(31)

کـــــهٔ خـــــزان ئـــــې د خـــــط ګـــــل کـــــړو د مـــــخ مـــــړاوې
هـــــم بلبـــــل ئـــــې د ګلـــــزار یـــــم لکـــــه وم(32)

لنډه دا چې علي خان هم د خپل کلي نه لرې د هجر و غم سندرې لکه د طوطي وئيلې دي او د پښتو ادب زار کښې ئې نوي ګلونه او ميوې نال کړي دي. چې په خوشبوئۍ يې پښتو ادب معطر دی. د هندي سبك په شاعرانو کښې يو ډېر اهم شاعر بېدل هم شامل دی، د پښتو ادبي تاريخ د بېدل په حقله بېخي خاموشه ۀ، هيڅا هم د بېدل ذکر نۀ ۀ کړی، ښاغلي همېش خليل صاحب د بېدل ديوان په ورومبي ځل انکشاف وکړو او د سبك هندي په شاعرانو کښې يې د يو نوي نازك خياله شاعر اضافه وکړه، د بېدل په شاعرۍ کښې د سبك هندي ټول خصوصيات موجود دي، دلته مونږ په ټولو خصوصياتو خو بحث نۀ شو کولی البته دې لړ کښې د همېش خليل يوه حواله پېش کوو او ورپسې د بېدل د کلام نمونې پېش کولو نه پس پرې خپله مجموعه رائې ورکولو هڅه کوو. همېش خليل د بېدل د شاعرۍ په حقله ليکي:

"بېدل د حميد بابا د مکتبه فکر شاعر دی او شاعري يې نۀ صرف د حميد بابا په فکر رنګينه ده بلکې دا رنګ د بېدل په شاعرۍ ډېر شوخ هم دی.... رنګينۍ او نازك خيالي د بېدل د شاعرۍ لوی صفت دی"(33).

د دغه نازك خياله شاعر د ديوان نه يو څو نمونې پېش کوم:

"نن له کومې بيا بېدله دلدار راغی
په ګلګون جامو نغښتی ګلزار راغی
که هزار تورې توبرې پرې اووري څۀ شو
په شنه زغره د خط پټ شهسوار راغی"(34)

د بېدل په شاعرۍ کښې نورې هم ډېرې نمونې شته چې د سبك هندي د يو نمائنده شاعر په حېث يې پېش کولی شي. خو د طوالت له ويرې په دې به نور بحث بيا کوو. د بېدل د شاعرۍ د مطالعې نه پس مونږ په دې نتيجه رسېدلي يو چې د بېدل شاعري ساده، روانه او عام فهمه ده، ګرانه موضوع په اسانه ټکو کښې پېش کولو باندې قدرت لري او دا هم د يو قادر الکلام شاعر تر ټولو لويه خوبي ده.

د بېدل نه علاوه د پښتو يو بل شاعر چې د نازك خياله په حواله يې مونږ يادولی شو هغه مير عبدالله دی، د مير عبدالله په حقله د پښتو ادب اکثر لوستونکي شايد چې د هغۀ نوم نه ناواقف وي ولې د دې مقالې په توسط سره بايد دومره ووايم چې ښاغلي همېش خليل په خپل کتاب ورکه خزانه دويم ټوك کښې د مير عبدالله د ژوند او شاعرۍ په حقله خپل تحقيق کړی دی چونکې مير عبدالله هم د سبك هندي د شاعرانو په قطار کښې شامل شاعر دی نو ځکه د هغۀ د کلام يوه نمونه هم دلته پېش کوم:

"عاشــق ځکــه ســتا شــین خــال تــه نســکور پــروت وي
د دونهـــې پــه غــاړه تــل وي ملنګــار تيــټ"(35)

"ســتا څپيــړې مــې ســپين مــخ لکــه شــين يــن کــړ
ځکــه ســم مــې شــول لــه ســترګو نــه رودونــه"(36)

"چــې نظــر يــې ســتا پــه مــخ دی لګيــدلی
د تصــوير پــه شــان ولاړ بــه وي حيــران چــپ"(37)

ســره لمبــه يــې د ســينې لــه مينځــه خيــژي
بيــا ګويــا وي لکــه خــط پــه خپــل بيــان چــپ"(38)

مونږ د سبك هندي په حواله د پښتو شاعرۍ جاج واخستو او په دې نتيجه ورسېدو چې حميد بابا په پښتو کښې د کوم سبك بنياد ايښی دی، د دغه سبك پيروي نورو شاعرانو هم وکړه، دغو شاعران پښتو شاعرۍ د نوو افکارو او فني باريکيو سره اشنا کړه، د سبك هندي په شاعرانو ډېر څه ليکلی کېدی شي خو په دغه مقاله کښې مونږ دغه بحث دومره کافي ګڼو.

# حوالې


(1) خویشکي،پرویزمهجور،ډاکټر،هندي سبک او کاظم خان شیدا ، مشموله میاشتنۍ پښتو ، پښتواکېډیمي پېښورپوهنتون جلد ،۲۱ ،شماره ۷،۸،۹، جولائي، اګست، ستمبر،۱۹۸۹ء،مخ ۲۲-

(2) سائل،محمد ،خواجه،عبدالحمید بابا ،عظیم پبلشنګ هاوس خیبر بازار پېښور، ۱۹۸۵ء، مخ۱۰۴-

(3) حمیدبابا ،در اومرجان، مقدمه او تصحیح،ډاکټر سید انوارالحق، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور ،د چاپ کال نۀ لري، مخ ۱۳۱

(4) همدغه اثر-

(5) همدغه اثر،مخ ۱۹-

(6) همدغه اثر،مخ۲۹

(7) همدغه اثر،مخ ۳،۴-

(8) همدغه اثر،مخ ۴،۵-

(9) همدغه اثر،مخ ۹-

(10) همدغه اثر،مخ ۲۷-

(11) همدغه اثر،مخ ۱۳۴-

(12) همدغه اثر،مخ۱۱۲-

(13) همدغه اثر،مخ۱۹-

(14) همدغه اثر،مخ ۷۰-

(15) همدغه اثر،مخ ۲۱-

(16) همدغه اثر،مخ ۱۳۱-

(17) خټک.کامګارخان،دیوانِ کامګارخان خټک، مقدمه سید تسنیم الحق کاکاخېل،سید محمد تقویم الحق کاکاخېل، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي،۱۹۹۵ء،مخ۲۰۰-

(18) همدغه اثر،مخ ۹۱-

(19) همدغه اثر،مخ ۱۱۱-

(20) همدغه اثر،مخ ۹۰-

(21) همدغه اثر، ۱۸۵-

(22) همدغه اثر،مخ۱۲۸-
(23) همدغه اثر،مخ،۲۳۹-
(24) شیدا ،کاظم خان،دیوانِ کاظم خان شیدا ، ترتیب او تدوین، همېش خلیل،ادره اشاعت سرحد ،پېښور،کال ۱۹۲۵ء، مخ ۴۸-
(25) همدغه اثر،مخ ۱۴۳-
(26) همدغه اثر،مخ ۵۲-
(27) همدغه اثر،مخ ۴۹-
(28) همدغه اثر،مخ ۱۸۵-
(29) همدغه اثر،مخ ۱۳۲-
(30) همدغه اثر،مخ ۵۴-
(31) همدغه اثر،مخ ۹۹-
(32) همدغه اثر،مخ ۲۳-
1 همدغه اثر،مخ۲۳-
(33) علي خان، دیوانِ علي خان، مقدمه،سید محمد تقویم الحق کاکا خېل، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي، ۱۹۵۱ء، مخ ۷۳-
(4) خلیل، همېش، دیوان بېدل، شاهین برقي پرېس پېښور، 1957ء، مخ206.
(35) خلیل، همېش، ورکه خزانه دویم ټوك، دار التصنیف پېښور، 1960ء، مخ110.
(36) ایضاً، 110.
(37) همدغه اثر،مخ 115.
(38) همدغه اثر،مخ 116.